# لورالائي کښې
# دوه ورځنۍ ادبي سيمينار

رپورټ: بوريوال کاکړ




بوری چې د لورالائي په نامه هم يادېږي د جنوبي پښتونخوا يوه داسې لرغونې ناوه ده چې د ژوند د نورو څانګو تر څنګ دادب په ډګر کښې هم په ټوله پښتونخوا کښې ځان ته يو ځانګړے مقام لري .

په بوري کښې له کال ۱۹۶۲م څخه د پښتو ادبي ملګري په نامه يوې ادبي ټولنې په کار پيل کړے ؤ چې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ د پاره تر اوسه په نۀ ستړې کېدونکې توګه دوام لري .د نوموړې ټولنې تر څارنې لاندې په دوو نړيوالو څېړن غونډو برسېره په سلګونو ادبي او کلتوري غونډې ، تنقيدي ناستې او مشاعرې تر سره شوې دي .

د پښتو ادبي ملګري بوري له خوا د پښتو ژبې د خدمت د دې اوږدې لړۍ يوه بله درنه ادبي غونډه د اکتوبر په ۱۱مه او ۱۲مه نېټه د بوري ولسوالۍ د شورا په تالار کښې تر سره شوه چې په درېو برخو وېشل شوې وه.

لومړۍ برخه چې د بوري د تکړه او خوږ ژبي شاعر قاري جمال الدين مسافر د نعتيه ټولګي کنزالجمال د مخکتنې دستورې ته ځانګړې شوې وه له مهال وېش سره سمه د ۱۱م اکتوبرد مازيګر په پنځه بجې پيل شوه . د دې دوه ورځنۍ ادبي غونډې د لومړۍ برخې پيل قاري جمال الدين مسافر د قرآن پاك په څو سپېڅليو اياتونو وکړو. د

غونډې د دې برخې د مشرتابه دپاره پخواني ايالتي وزير او د جمعيت علماء اسلام مولوي امير زمان وکړه. په دۀ پسې اکبر خان نګار د انورحسين مسافر يو نظم چې کنزالجمال ته ډالۍ شوے ؤ د غونډې برخه والو ته واورولو. له هغه وروستو قاري جمال الدين مسافر له نعت وئيلو سره مينه او د کنزالجمال د ليکلو په حقله په تفصيل خبري وکړې. ورپسې د مخکتنې د دستورې کوربه افضل شوق، مېلمه نسيم احمد پانېزي او مشر مولوي امير زمان د خپلو خيالاتو څرګندونه وکړه او د قاري جمال الدين مسافر دغه زيار ئې نېك او د پښتوادب په نعتيه برخه کښې يوه مهمه او په زړۀ پورې زياتونه وګڼله.

د چايو يو چټك خو خوندور دور وچلېد او راقم الحروف د وياند په حېث غونډه په مخ بوتله. دغه ګړۍ له کوټې څخه رارسېدلي مېلمه ډاکټر عبدالروف رفيقي ته هم سټېج ته د راتلو بلنه ورکړې شوه. په کنزالجمال ارسلاخان کاکړ، عبدالکريم عامر، ډاکټر هرات خان ناصراو عبدالرشيد حقمل د خپلو خيالاتو څرګندونه وکړه. له مقاله ويونکو وروستو مولوي پاره الدين انديش، محمود اياز، رازق فهيم او استاد سيد خېر محمد عارف هم په کنزالجمال رڼا واچوله.

> وېناوالو په دې خبره زور واچولو چې کۀ په تعليمي نصاب کښې بدلون راوستل شي او په خاصه توګه يو داسې څۀ وکړے شي چې د هغۀ له مخې لوستونکو ته د اخلاقي او شعوري روزنې زمينه برابره شي نو په ټولنه کښې د غلطو لارو وخوا ته د مخه کونکو کچه تر ډېره حده رابښکته کېدے شي.

په سبا سحر نهۀ بجې وې چې کوربانۀ او مېلمانۀ د ولسوالۍ د شورا تالار ته راورسېدل او د غونډې دوېمه برخه چې سرليك ئې د ادب له لارې ځوانانو ته پېغام ؤ شروع شوه.

د غونډې د دې برخې مشرتوب د لافام موسسې د منېجنګ ډائريکټر نسيم احمد پانېزي په غاړه ؤ. پروفېسر خليل باور او پروفېسرمحمود اياز د مېلمنو په حېث په سټېج موجود وو او د کوربه په چوکۍ د پښتو ادبي ملګرې بوري مشر استاد سيد خېر محمد عارف ناست ؤ.

تر ټولو له مخه ډاکټر هرات خان ناصر خپله مقاله د غونډې برخه والو ته واوروله. له هغه وروستو عبدالکريم عامر، محمدنواز قائل، شمس الدين شمس، شوکت ترين او افضل شوق يو په بل پسې خپلې مقالې واورولې. له دوي څخه وروستو رازق فهيم او ډاکټر عبدالروف رفيقي بيا په ياده شوې موضوع بنې اوږدې خبرې وکړې. استاد سيد خېر محمد عارف د کوربه په حېث لنډې خبري وکړې. وروستو ئې د ادب له لارې و ځوانانو ته پېغام باندې ليکلې خپله مقاله وړاندې کړه. په اخر کښې د غونډې د دې برخې مشر نسيم احمد پانېزي ته د وينا کولو بلنه ورکړې شوه. هغۀ د خپلو مېلمنو،کوربنو اود پښتوادبي ملګري له ټولو غړو څخه مننه وکړه او د




هغوي له خپلې مورنۍ ژبې سره خپلوي او مينه ئې په ډېرو ښو ټکو وستائيله. نوموړي په خپلو خبرو کښې دا هم ووئيل چې د ادب له لارې ځوانانو ته پېغام باندې وئيل شوو مقالو ته به کتابي شکل ورکوي.

په پورته ياد شوي سرليك چې کومو ليکوالو خپلې مقالې واورولې او لا ئې وېناوې وکړې هغه په مجموعي توګه ټولې ډېرې ښې ګټورې او له پنده ډکې وې. هسې خو د ټولو مقالو او ويناو ببلابېل اړخونه لرل خو يو شو نکتې د ټولو له خوا تر بحث لاندې راغلې. هغه دا وې چې په ټولنه کښې هر غلط کار له ناپوهۍ او بې علمۍ څخه سرچينه اخلي. هغوي ووئيل چې زمونږ په ټولنه کښې د ناسمو لارو د غوره کولو په قطار کښې تر ټولو زيات شمېر له لس کلنو څخه تر اتلس کلنو ځوانانو او پېغلو دے. دوي ووئيل چې د ژوند تر ټولو حساسه موده له لس کلنۍ څخه تر اتلس کلنۍ پورې ګڼل کيږي کومه چې زياتره په سکول او کالج کښې تېرېږي. دوي زياته کړه چې له يوې خوا زمونږ په تعليمي نصاب کښې د اوسني دور د اړتيا او د پوره کولو توان نشته او بلې خوا ته په دې کښې هيڅ ډول بدلون نۀ راوستل کيږي. وېناوالو په دې خبره زور واچولو چې کۀ په تعليمي نصاب کښې بدلون راوستل شي او په خاصه توګه يو داسې څۀ وکړے شي چې د هغۀ له مخې لوستونکو ته د اخلاقي او شعوري روزنې زمينه برابره شي نو په ټولنه کښې د غلطو لارو وخوا ته د مخه کونکوکچه تر ډېره حده راښکته کېدے شي. د غونډې دا برخه ماسپښين درې بجې سر ته ورسېده.

د دې دوه ورځنۍ غونډې دريمه او وروستۍ برخه ازاده مشاعره وه. ډاکټر هرات خان ناصر د کوربه چارې ترسره کړې. له کلاسېف الله څخه راغلي محمد نواز قائل او د عوامي نېشنل ګوند بوري مشر بسم الله لوني ته د مېلمنو په حېث د خپلو چوکيو د سمبالولو خواست و شو.

د مشاعرې په پېل کښې له سنځاوۍ څخه راغلي شاعر غلام جېلاني ساج په خپل خواږۀ غږ کښې يو نعت شريف وړاندې کړو. له هغه وروستو وياند خپل شعر وړاندې کړو او دا رنګه مشاعره مخ په وړاندې لاړه. په تالار کښې ناست ټول شاعران په خپل خپل وار ستېج ته راغلل او خپل شعرونه ئې د مشاعرې برخه والو ته واورول.